
# پهٔ نمونځ کښې د خشوع پیدا کولو
# 27 مدني ګلونه

02-May-2024



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پۀ دويمه مئي کال 2024ء د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# پۀ نمونځ کښې د خشوع پيدا کولو 27 مدني ګلونه

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... هسې د دروغو نمونځ کوونکي ډاکوان
- ...د کارغۀ پۀ شان ټونګې مۀ وهئ...!!
- ... پۀ نمونځ کښې لږم 40 ټکونه وچيچله
- ... پۀ رزق کښې د برکت مضبوطه ذريعه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: د جُمعې پهٔ شپه او د جُمعې پهٔ ورځ (يعنې د زيارت د ورځ د نمر پريوتو نه تر د جُمعې د ورځې د نمر پريوتو پورې) پهٔ ما باندې د دُرُودِ پاک کثرت کوئ! ځوک چې داسې کوي د قيامت پهٔ ورځ به زهٔ د هغهٔ ګواهي ورکووم او شفاعت به يې هم کووم. [1]

| | |
|---|---|
| تمنّا ہے فرمائیے روزِ محشر | یہ تیری رہائی کی چٹّھی ملی ہے |
| شفاعت کرے حشر میں جو رضا کی | سوا تیرے کس کو یہ قُدرت ملی ہے [2] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے. [3]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي. راځئ چې د

1...شُعَبُ الْاِيمان، باب فی الصلوات، جلد:3، صفحہ:111، حدیث:3033.
2...حدائقِ بخشش، صفحہ:188 ملتقطًا.
3...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1.

بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښينم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دروغو نمونځ کوونکي ډاکوان

**وائي چې** ځل د ډاکوانو يوه ډله د يو مالدار سړي کور ته د ډاکه وهلو په غرض داخله شوه، اِتِّفاقاً د هغه مالدار سړي سترګې اوغړيدلې او شور ئې جوړ کړو، د ګاونډ خلق راپاڅيدل او ډاکوان اوتښتيدل، خلق ورپسې شو، ډاکوان مخکښې وو او خلق ورپسې وو. په لاره کښې ډاکوانو يو جُمات اوليدلو نو فوراً جُمات ته داخل شو او هسې د دروغو **نمونځ** ئې شروع کړو! خلق هم د هغوئي په تلاش کښې جُمات ته را اورسيدل، چې اُوئې کتل نو يو څو سړي په **نمانځه** کښې مصروف دي او د هغوئي نه علاوه جُمات کښې هيڅ څوک نه وو، هغوئي اُووئيل چې افسوس! ډاکوان لاړل. چنانچه خلق ناکامه بيرته لاړل. چې دا ئې اوليدل نو د ډاکوانو سردار خپلو ډاکوانو ملګرو ته اُووئيل: که نن مونږه هسې په دروغو د **نمانځه** شکل نه وے جوړ کړے نو ضرور به نيولي شوي وے، چې صرف په دروغو د **نمانځه** شکل جوړولو دا بَرَکت دے چې مونږه د ذِلَّت او رُسوائي نه بچ شو نو که مونږه په حقيقت کښې په صحيح طريقه **نمونځ** کول شروع کړو نو **اللّٰهُ** رَبُّ الْعِزَّت به مونږه د دوزخ د مصيبت نه هُم بچ کړي، نو ځکه زه خو د اوس نه د لوټ مار نه توبه کووم او د **اللّٰه** پاک د نافرمانئ عادت پريږدم. د هغه ملګرو اووئيل: اے زمونږه سرداره! چې تاسو توبه اوکړه نو بيا مونږه ولې داسې پاتې شو! مونږه هُم تاسو سره توبه کښې شريک کيږو. چنانچه ټولو ډاکوانو د زړه په صِدق سره توبه اوکړه، او هغوئی پرهيزګاره خلق جوړ شو. (فيضانِ نماز، ص:۴۸)

ہر عبادت سے برتَر عبادت نماز
ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نماز
قلبِ غمگین کا سامانِ فرحت نماز
ہے مریضوں کو پیغامِ صحت نماز
نارِ دوزخ سے بیشک بچائے گی یہ
رَبّ سے دِلوائے گی تم کو جنّت نماز
پیارے آقا کی آنکھوں کی ٹھنڈک ہے یہ
قلبِ شاہِ مدینہ کی راحت نماز
بھائیو! گر خُدا کی رضا چاہیئے
آپ پڑھتے رہیں باجماعت نماز
آؤ! مسجد میں جھک جاؤ رَبّ کے حُضُور
تم کو دِلوائے گی حق سے رفعت نماز
یاخُدا! تجھ سے عطّاؔر کی ہے دُعا
مصطفٰے کی پڑھے پیاری اُمّت نماز

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## خومره ښکلے شان دے د ښکلي نـمونځ...!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! خومره ښکلے شان دے د ښکلي نـمونځ...!! اندازه ولګوئ چې هُغه ډاکوانو ❀ د الله پاک د رضا د پاره نهٔ بلکې ځان د ګيريدو نه د بچ کولو د پاره ❀ باقاعده نـمونځ ونکړو بلکې د نـمونځ پهٔ شان شکل يـې اختيار کړو، لکه څنګه چې پهٔ نـمونځ کښې قيام کيږي، رکوع او سجده کيږي، هغوئي د دروغو دا انداز اختيار کړو، هغوئي جومات ته راغلي وو، د نيولو د ويرې نه سهي، د دروغو سهي، د رَبِّ کريم پهٔ حُضُور کښې خو اودريدلي وو، بس پهٔ دې باندې د الله پاک رحمت پهٔ جوش کښې راغلے او هغوئي ته يـې د توبې توفيق ورعطا کړو...!!

دا يقيناً چې د رَبِّ رحمان و رحيم عطا ده، څوک چې خومره د هغه پهٔ حضور کښې حاضري کوي، څومره چې د هغه پهٔ بارګاه کښې سر ټيټوي، خومره چې د هغه پهٔ لور زړهٔ لګوي، هغهٔ ته هُغه همره عطا کوي. پهٔ دې کښې زمونږ د پاره سبق دے چې د دروغو د نـمونځ شکل جوړوونکـي د رَبّ تعالیٰ د رحمت محرومه پاتې نه شول نو که مونږ د الله

پاک د رضا د پاره، د دروغو نۀ بلکې پۀ رښتيا د نـمونځ کولو عادت جوړ کړو نو آيا کرم به راباندې نه کيږي...!!

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته پۀ ښۀ انداز کښې د نـمونځ کولو توفيق راعطا کړي. راځئ چې پۀ ښۀ انداز کښې د نـمونځ کولو يوه بله واقعه واورو:

## د يو مجازي عاشق عجيبه واقعه

حضرت عبدُ الرَّحمٰن صَفُّوري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په "نُزهَةُالْمَجَالِس" کښې يوه ډيره عجيبه واقعه بيان کړې ده، د هغې خُلاصه دا ده چې يو کس په يوه ښځه عاشق شو، آخر يوه ورځ هغه هِمَّت اوکړو او يوه چيټۍ [يعني خط] کښې ئې هغه ښځې ته د خپل عِشق اِظهار اوکړو. هُغې زنانه د ډيرې شريفې کورنۍ سره تَعَلُّق لرلو، چې هغې ته چيټۍ ملاو شوه نو ډيره پريشانه شوه او ولې چې واده شوې هُم وه ځکه ئې د څه سوچ فِکر نه پس هغه چيټۍ خپل خاوند ته وړاندې کړه. د هغې خاوند د يو جُمات اِمام وو او ډير زيات پرهيزګار او هوښيار انسان وو، د هغه په خپله ښځه باندې پوره اعتماد (يعني اعتِبار) وو. لِـهذا د هغه چيټۍ په جواب کښې ئې د خپلې ښځې په ذريعه دا جواب ورکړو چې "**فلانکي جُمات کښې فلانکي اِمام پسې بے ناغه څلويښت ورځې پينځه وخته نمونځ د جَمعې سره ادا کړه، بيا به مخکښې ګورو.**" هغه "عاشِق" پابندۍ سره د **جَمعې نمونځ** شروع کړو، چې څنګه څنګه ورځې تيريدلې هغسې په هغه باندې د **نمانځه** بَرَکتونه هُم ظاهريدل. چې څلويښت ورځې پوره شوې نو د هغه د زړه دُنيا بدله شوې وه چنانچه هغه دا پيغام ور اوليږو: (محترمې! د **نمانځه** په بَرَکت زما سترګې اوغړيدلې، مَعَاذَالله ما به د حرام کارۍ خيالونه کول خو د **الله** کريم ډير ډير شُکر دے چې هغه ما ته ستا د مَحَبَّت نه نجات راکړو اَلْحَمْدُلِلّٰه) ما د خپلې بد نِيَّتۍ نه توبه اوکړه او تا نه هُم معافي غواړم. چې کله هغه نيکې ښځې خپل خاوند ته دا پيغام واورولو نو د هغه په ژبه بے اختياره جاري شو چې:

صَدَقَ اللّٰہُ الۡعَظِیۡمِ فِیۡ قَوۡلِہٖ (یعني ربِّ عظیم په خپل اِرشاد کښې بالکل رښتیا فرمائیلي دي چې):

اِنَّ الصَّلٰوۃَ تَنۡہٰی عَنِ الۡفَحۡشَآءِ وَالۡمُنۡکَرِ ؕ (پاره:21، العنکبوت:45)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُ الاِیمان: بیشکه **نمونځ** منع کوي د بے حیائي او بدې خبرې نه.

(نُزهَةُ المجالِس ج۱ ص۱۴۰ مُلَخَّصاً)

اے د نمونځ د بَرَکتونو طلبګارو! تاسو اولیده؟ چې د **نمانځه** په بَرَکت یو بیلمانځه کس په سمه لار روان شو او د هغه په زړه کښې د مالِک حقیقي مَحبَّت پیدا شو او زړه ته ئې سکون حاصل شو. او واقعي د **الله** پاک او د هغه د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مَحبَّت داسې څیز دے چې کوم خوش نصیبه ته نصیب شي نو هغه بیا بل چا ته زړه هډو ورکولے نه شي.

محبت میں اپنی گما یاالٰہی! | نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی
رہوں مست وبے خود میں تیری وِلا میں | پلا جام ایسا پلا یاالٰہی

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د نمونځ برکتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نمونځ ډیر د برکت والا عبادت دے ❁ نمونځ د **الله** پاک د رضا سبب دے ❁ نمونځ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سترګو یخ والے دے ❁نمونځ د انبیائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام سُنَّت دے ❁ نمونځ د تیارۀ قبر شمع ده ❁ نمونځ د قبر د عذاب نه بچ کوي ❁ نمونځ نُور دے ❁ نمونځ د دِین ستَن ده ❁ د جنَّت کُنجي ده ❁ د نمونځ سره رحمتونه نازلیږي ❁ نمونځ د دُعاګانو د قبلیدو سبب دے ❁ نمونځ د بیمارو نه بچ کوي ❁ بدن ته راحت ورکوي ❁ د نمونځ سره پۀ رزق کښې برکت راځي ❁ نمونځ د بے حیایۍ او بدو کارونو نه منع کوي ❁ پۀ وخت نمونځ ادا کول د ټولو اعمالو نه افضل دے ❁ د نمونځ کوونکي د پاره د ټولو نه لوئي نعمت دا دے چې هغۀ به د قیامت پۀ ورځ د **الله** پاک دیدار کوي. (فیضانِ نماز)

ځکه مونږ له پکار دي چې نـمونځ ادا کړو، پينځه واړه نـمونځونه ادا کړو، پهٔ جومات کښې يـې د جَمعې سره ادا کړو، خومره به ښهٔ وي چې پهٔ وړومبي صف کښې يـې د تکبير اُولىٰ سره ادا کړو. اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د دې پهٔ برکت به د دِين او دُنيا بے شميره خيرونه رانصيب شي.

بھائیو! گر خُدا کی رضا چاہئے — آپ پڑھتے رہیں باجماعت نماز
آؤ! مسجد میں جھک جاؤ ربّ کے حُضُور — تم کو دِلوائے گی حق سے رِفعت نماز
صبر سے اور نمازوں سے چاہو مدد — پُوری کروائے ہر ایک حاجت نماز

## نـمونځ د بدو نه منع کوي

الله پاک پهٔ 21 سيپاره سُوْرَةُ الْعَنْكَبُوْت آيت 45 کښې ارشاد فرمائي:

اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ
(پارہ:21، العنکبوت:45)

[مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالاِيمان: بيشکه **نمونځ** منع کوي د بے حيائي او بدو خبرو نه.

د الله پاک فرمانِ عاليشان بيشکه حق حق او حق دے. "يقيناً **نمونځ** د بے حيائي او بدو خبرو نه منع کول کوي." خو څه وجه ده چې نن صبا بيشميره نمونځ ګُزاره خلق د مور و پلار نافرمانئ، بے پردګئ، بے حيائي، کنځلو کولو، غِيبت، چغلئ، د بے حيائي خبرو، زړه ازارولو، د خلقو د حق تلفئ، د سُود او رِشوت لين دين وغيره ګناهونو کښې کثرت سره اخته دي! آيا حقيقي نمونځ ګُزاره دروغژن، دوکه باز، چغل خور کيدے شي، آيا حقيقي نمونځ ګُزاره حرام رِزق ګټلو والا، حرام خور او په نورو حرام خوړلو والا کيدے شي، آيا حقيقي نمونځ ګُزاره د فِلمونو او ډرامو شوقي، د سندرو او سازونو د پروګرامونو او غړولو شوقي کيدے شي، آيا حقيقي نمونځ ګُزاره ګيره خرئيلو والا يا د يو مُوټي نه کمولو والا کيدے شي؟ نه...... کله هُم نه...... بالکل نه. بيشکه حقيقت هُم دا دے چې **نمونځ** د ګناهونو نه منع کول کوي. خو افسوس! زمونږه خپلو نمونځونو کښې

کمزورئ دي او د هغې په وجه مونږه نیک نه شو جوړیدے. لِـهذا مونږ ته پکار دي چې مونږه د خپلو نمونځونو جائزه واخلو، د **نمانځه** ظاهري او باطِني آداب زده کړو او خپل اودس او غُسل وغیره هُم صحیح کړو. که صحیح معنو کښې اوداسه او طهارت کښې خُشُوع و خُضُوع سره د هغې د ټولو ظاهري او باطِني آدابو خیال ساتلو سره **نمونځ** کوو نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! ضرور به د دې بَرَکتونه ښکاره شي او په صحیح طریقه باندې ادا کړې **نمانځه** په بَرَکت به واقعي د ګناهونو ظاهري او باطِني ګندګئ لرې شي او مونږ به نیک صورت او نیک سِیرت مسلمانان جوړ شو او زمونږه پوره کردار به د سُنَّتو مطابق جوړ شي. اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم!

کیوں نمازی جہنّم میں جائے بھلا! | اس کو دِلوائے گی باغِ جنّت نماز
جو مسلمان پانچوں نمازیں پڑھیں | لے چلے گی انہیں سُوئے جنّت نماز
ہو گی دُنیا خراب، آخرت بھی خراب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز

اوس به د چا پهٔ ذِهن کښې سوال پیدا کیږي چې د نـمونځ ظاهري او باطني آداب څهٔ څهٔ دي...؟ څنګه به یـې زده کوو؟ د چرته نه به یـې زده کوو؟ د دې د پاره خو یو څو د نـمونځ آداب زهٔ عرض کووم، باقي دا دي چې د نـمونځ او د دې د ظاهري او باطني آدابو زده کولو د پاره به مونږ ټولو له وخت ویستل پکار وي ❀ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي پهٔ دِیني ماحول کښې باقاعده فیضانِ نماز کورس کولے شي، د 7 ورځو کورس دے، رهائشي هم کولے شي او جُز وقتي هم کیږي، پهٔ دې کورس کښې د نـمونځ احکام او مسائل ښودلے شي، دا کورس وکړئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! د نـمونځ پهٔ باره کښې به ډیر عِلم زده کړئ ❀ د شیخِ طریقت، امیر اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډیر ښکلے کتاب دے: **فیضانِ نماز**. د 600 نه د څهٔ کمو صفحو کتاب دے، دا ولولئ! د نـمونځ پهٔ باره کښې داسې داسې معلومات پهٔ دې کښې ورکړے شوي دي چې لوستل به یـې خوند درکړي ❀ بیا د دې سره سره د **احیاء العلوم** پهٔ وړومبي جلد کښې د نـمونځ

باب ولولئ! اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! د نـمونځ د ظاهري او باطني آدابو پۀ باره کښې به ډیر څۀ زده کړئ. **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

راځئ چې د نـمونځ یو څو آداب واورو:

## (1): نـمونځ له وخت ورکړئ!

د نـمونځ وړومبے او اَهم ترین اَدب دا دے چې نـمونځ له وخت ورکړې! وګورئ چې نـمونځ د دِین ستَن ټاکلے شوې ده، د دِین پۀ فرائضو کښې اَهم ترین فرض نـمونځ دے، د دې دومره ډیر فضائل او فائدې بیان کړے شوې دي. اوس دغه فائدو ته د رسیدو د پاره، د دې اهم ترین فرض ادا کولو د پاره خو به وخت ویستل وي خو افسوس چې ❀دلته حالات داسې دي چې خلق زر زر جومات ته راشي، زر زر نـمونځ وکړي او کور ته روان شي، څومره تادي چې پۀ نـمونځ کښې کیږي، شاید چې پۀ بَل څۀ کار کښې به نه کیږي...!! ❀ بیا شیطان مردود...!! دے هم تنکول کوي، چې بنده څنګه نـمونځ شروع کړي نو شیطان به کله یو کار وریادوي او کله بَل کار، بس بیا تادي شروع کړي چې زر زر نـمونځ وکړه! بیا فلانکے فلانکے کار هم کول دي.

دغسې خلق د دنیائي کارونو د پاره پۀ نـمونځ کښې تادي کوي او د نـمونځ د آدابو د خیال ساتلو نه بغیر چې هر څنګه وي نـمونځ وکړي. **الله** پاک دې زمونږ پۀ حال باندې رحم وکړي، پۀ نـمونځ کښې تادي کول ډیره د نقصان خبره ده.

## پۀ نـمونځ ادا کولو کښې تادي

د **الله** پاک د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: "په خلقو کښې بد ترین غَل هُغه دے څوک چې په خپل نمانځه کښې غلا اوکړي": عرض اوکړے

شو: ”یَارسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! څوک په خپل نمونځ کښې غلا څنګه کولے شي؟“ اُوئې فرمائيل: ”(داسې چې) هغه د دې رُکوع او سجدے نه پوره کوي.“ یا یې ارشاد ووفرمائیلو: هغه پۀ رُکوع او سجدو کښې خپله ملا نه نیغوي.
(مسند امام احمد بن حنبل ج ٨ ص ٣٨٦ حدیث ٢٢٧٠٥)

## د کارغۀ پۀ شان ټونګې مۀ وهئ

حضرت عبد الرحمان بن شِبل رضی اللہ عنہ فرمائي چې نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کارغۀ پۀ شان ټونګو وهلو او د سرې خوارو ځناورو پۀ شان د لاسونو خوررولو نه منع فرمائیلې ده. (ابو داؤد ج ١ ص ٣٢٨ حدیث ٨٦٢)

یعنې سجده کوونکے دې سجده داسې زر زر نه کوي لکه څنګه چې کارغۀ پۀ زمکه ټونګې وهي او فوراً [څۀ څیز] اوچتوي او پۀ سجده کښې دې څنګلې د زمکې سره نه لګوي لکه څنګه چې یې سپے، شرمښ وغیره د څملاستو پۀ وخت لګوي.
(مرأة المناجیح ج ٢ ص ٨٧)

## پۀ نمونځ کښې د تادۍ کولو نقصانات

د خادمِ نبي، حضرت اَنس بن مالِک رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې د **الله** پاک د خوږ نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې نمونځونه پۀ خپل وخت باندې ادا کړي او د نمونځ د پاره پۀ ښه طریقه اودس وکړي او د دې قیام، خشوع، رُکوع و سجود (یعنې سجدې) پوره کړي نو د هغۀ نمونځ سپین او روښانه شوے ووځي او دا وائي چې **الله** پاک دې ستا حفاظت وکړي څنګه چې تا زما حفاظت وکړو. او څوک چې نمونځ بے وخته ادا کړي او د دې د پاره کامِل (یعنې پۀ ښه طریقه) اودس ونکړي او د دې خشوع، رُکوع او سجدې پوره نه کړي نو هُغه نمونځ تَک تور شوے ووځي او دا وائي چې **الله** پاک دې تا ضائع کړي څنګه چې تا زۀ ضائع کړم. تر دې

پورې چې **الله** پاک چرته غواړي هُغه (نـمونځ) هُغه ځائے ته اورسي، بيا هغه د ورستې شوې (زړې کپړې) پهٔ شان راټول کړے شي او د هُغه نـمونځ کوونکي پهٔ مخ باندې ورويشتے شي. (معجم اوسط ج ٢ ص ٢٢٧ حديث ٣٠٩٥)

اَللّٰهُ اَکْبَر! اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور وکړئ! دلته چې څنګه حالات دي، پهٔ دُنيا کښې مونږه ځان دومره زيات مصروفه کړے دے چې د نـمونځ هډو څوک فِکر نه کوي...!! چې کوم خلق نـمونځ کوي نو پهٔ هغوئي کښې هم د ډيرو حالات څهٔ داسې دي چې پهٔ منډه منډه جومات ته راشي، پهٔ صحيح طريقه اودس ونکړي، د اوداسه د اوبو څاڅکي ترې څاڅي، لستوڼي يـې څنګلو تهٔ رسولي وي، زر راشي او نـمونځ شروع کړي، بيا نـمونځ کښې د لوستلو د پاره خو مونږ له بَس يو سُورت راځي، سورهٔ اِخلاص... د دې نه علاوه د نورو سورتونو يادولو راسره هډو فکر نشته... بس ټول رکعتونه د دې سُورت سره زر زر وکړي، رکوع پوره شوه که نهٔ، سجده پوره وشوه که نهٔ، رکوع ته لا صحيح پاخيدلے هم نه وي چې سجدې له تلل شروع شي، د ورومبۍ سجدې نه صحيح پاخيدلے هم نه وي چې بَله سجده وکړي... داسې بس زر زر نـمونځ وکړي او لاړ شي...!! دا زمونږ د نـمونځونو حال دے او مونږ **حديثِ پاک** واوريدو: څوک چې د نـمونځ رکوع او سجدې نه پوره کوي، نـمونځ وائي: چې څنګه تا زهٔ ضائع کړم، **الله** پاک دې تا هُم ضائع کړي.

د خدائے پناه! د خدائے پناه...!! اے خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور خو وکړئ چې زمونږه نـمونځ، هُغه عظيم الشان عبادت د کوم پهٔ ذريعه چې زمونږه کردار سميدل وو، کوم چې د ګناهونو د ګند نه پاکول کوي، کوم چې د بدو او بے حيايۍ نه بچ کول کوي، چې هُغه نـمونځ هم زمونږ د ضائع کولو دعاګانې اوکړي نو ووايئ چې بيا زمونږ سره څهٔ پاتې شو...؟ زمونږ اِصلاح به څنګه کيږي؟ زمونږه حالات به څنګه ښهٔ

کيږي؟ زمونږ پهٔ رزق کښې به برکت د کوم ځائے نه راشي؟ د بيمارو نه به زمونږ حفاظت څنګه کيږي...؟ دا خو د دُنيا خبره ده، پهٔ ورځ د قيامت به د داسې نـمونځونو سره مونږ د **اللّٰه** پاک پهٔ حُضُور کښې څنګه حاضريږو...؟

ځکه زما **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** نـمونځ اهم ترين عبادت دے، د دې د پاره باقاعده وخت اوباسئ! نـمونځ پهٔ پوره اهتمام سره ادا کوئ! پهٔ پوره اطمينان سره، د سنتو او د مستحباتو خيال ساتلو سره اودس کوئ! بيا ډير پهٔ ادب سره، پهٔ عزت سره، پهٔ زړهٔ کښې د عاجزئ سره، څومره به ښهٔ وي چې د **اللّٰه** پاک د ويرې نه پهٔ ريپيدو ريپيدو سره جومات ته راشئ او پهٔ صف کښې ودريږئ! بيا د پوره توجُّه او مکمل اطمينان سره نـمونځ وکړئ! تاسو به وګورئ چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پهٔ يو څو ورځو کښې به مو د زړهٔ خيرے صفا کيدل شروع شي، زړهٔ به د نُور نه ډکيدل شروع شي بيا به مو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هُغه برکتونه نصيب شي چې دُنيا او آخرت به مو ښائسته شي.

## پهٔ اِطمينان سره د نـمونځ ادا کولو فضيلت

**حديثِ پاک** واورئ! د حضرت عُباده بن صَامِت رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د نبي رحمت، شفيع اُمت صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمانِ عالي شان دے: څوک چې پهٔ ښهٔ طريقه اودس وکړي، بيا د نـمونځ د پاره ودريږي، د دې رکوع، سجدې او قرآءَت مکمل کړي نو نـمونځ وائي: **اللّٰه** پاک دې ستا حفاظت وکړي څنګه چې تا زما حفاظت وکړو. بيا هُغه نـمونځ د اسمان پهٔ لور يوړے شي او د هغه د پاره ځليدل او نُور وي، پس د هغه [نمونځ] د پاره د اسمان دروازې برسيره کړے شي تر دې چې هغه د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې پيش کړے شي او هُغه نـمونځ د نـمونځ کوونکي شفاعت کوي.

(شعب الايمان ج ۳ ص ۱۴۳ حديث ۳۱۴۰)

ہوں میری ٹوٹی پھوٹی نمازیں خدا قبول

اُن دو کا صدقہ جن کو کہا شہ نے میرے پھول

**وضاحت:** يعنې امام حَسَن او حُسَين رضی اللہ عنہما کومو ته چې سرکارِ عالي وقار صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم رَیۡحَانَتَیَّ يعنې زما ګلونه فرمائيلي دي، **الله** پاک دې د هغوئي پهٔ وسيله زما مات ګوډ نـمونځونه قبول کړي.

سُبۡحٰنَ الله! اندازه ولګوئ چې کوم ګس ته افضل ترين عبادت يعنې نـمونځ د حفاظت دعاګانې کوي، د هٔغه ګس حفاظت به ولې نه کيږي، د هغهٔ کارونه به غيبي ولې نه کيږي...!! لږ سوچ خو وکړئ!! يو دے هٔغه بنده کوم ته چې نـمونځ وائي: تا دې **الله** ضائع کړي، بل دے هٔغه بنده کوم ته چې نـمونځ وائي: **الله** پاک دې ستا حفاظت وکړي. پهٔ انصاف سره ووايئ پهٔ دې دواړو کښې به د چا پهٔ کاروبار کښې برکت کيږي...؟ پهٔ دې دواړو کښې به سکون د چا نصيب کيږي؟ پهٔ دې دواړو کښې به د چا پهٔ کور کښې امن وي؟ يقيناً د هٔغه چا، چا ته چې نـمونځ د حفاظت دعاګانې کوي. بس هم دا نتيجه ده، مونږ چې د کومو کارونو پهٔ وجه پهٔ نـمونځ کښې تادي کوو، که مونږ نـمونځ پهٔ اطمينان سره ادا کول شروع کړو نو زمونږ هٔغه ټول کارونه پهٔ صحيح طريقه کيدے شي. خو پهٔ مونږ باندې د هٔغه کارونو پهٔ وجه تادي وي نو ځکه پهٔ نـمونځ کښې هُم تادي کوو، نتـيجةً

نہ خُدا ہی مِلا نہ وِصَالِ صنم
نہ اِدھر کے رہے، نہ اُدھرے کے رہے

يعنې پهٔ نـمونځ کښې مو د دُنيا د کارونو د پاره تادي کوله، نتيجه دا شوه چې د نـمونځ نورانيت مو ضائع کړو، نو د دُنيا کارونه مو هم پوره نه شول، ځکه چې نـمونځ ووئيل: لکه څنګه چې تا زهٔ ضائع کړم، **الله** دې هُم داسې تا ضائع کړي.

**الله** پاک دې مونږ ته عقل راکړي. نـمونځ ادا کوئ! ضرور يـې ادا کوئ! وخت اوباسئ او ادا کوئ يـې! د پوره اهتمام سره يـې ادا کوئ! د رَبّ **محبت** پهٔ زړهٔ

کښې د ساتلو سره يــې ادا کوئ، د دې تصور کولو سره يــې ادا کوئ چې **اللّٰه** پاک مو ويني،! اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! دُنيا او آخرت دواړه به مو ښائسته شي.

## (2): نــمونځ پۀ پوره تَوَجُّه سره ادا کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د نــمونځ دويم ادب دا دے چې نــمونځ پۀ پوره توجُّه سره ادا کړے شي. د مثال پۀ طور چې کله مونږ اودس کوو نو چې پۀ زړۀ کښې مو عاجزي وي، پۀ ژبه مو د اودس دعاګانې وي، بيا چې کله نــمونځ شروع کړو، اللهُ اکبر ووايو نو خيال مو د **اللّٰه** پاک پۀ لور وي، هم دغسې چې څۀ مونږ پۀ نــمونځ کښې وايو، مثلاً ❀ سورۀ فاتحه ❀ د دې نه پس چې کوم سورت لولو ❀ بيا د رکوع تسبيحات ❀ د سجدې تسبيحات ❀ اَلتَّحِيَّات ❀ دروُدِ پاک او ❀ پۀ آخره کښې دُعا، ټول د ترجمې سره ياد کړئ، بيا پۀ نــمونځ کښې د دې ترجمې ته خيال کوئ او پۀ توجُّه سره نــمونځ ادا کوئ، هُم داسې چې د قيام پۀ حالت کښې مو نظر د سجدې پۀ ځائے وي، پۀ رکوع کښې مو نظر د ښپو پۀ لور وي، قومه کښې (يعني چې کله د رکوع نه ودرېږې، هَغه وخت مو نظر د سينې پۀ لور وي، پۀ سجده کښې د پوزې پۀ لور، پۀ اَلتَّحِيَّات کښې نظر د غُولې پۀ لور ساتئ، داسې پۀ پوره اطمينان او پۀ پوره توجُّه سره نــمونځ ادا کوئ. اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! خوند به هم درکوي او د نــمونځ نُورانيت به مو هم نصيب کيږي.

## جنّت واجب کيږي

حضرت عُقبَه بن عامِر رضی اللہ عنہ بيانوي چې ما د **اللّٰه** پاک خوږ حبيب صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم وليدو چې هغوئې ودريدلو او خلقو ته يــې دا ارشاد فرمائيلو: کوم مسلمان چې پۀ ښه طريقه اودس وکړي، بيا د ظاهر او باطن په توجّه سره دوه رکعته ادا کړي نو د هغه د پاره جنّت واجب شي. (مسلم ص۱۱۸حديث۵۵۳)

## زما پۀ لور متوجِّه شه!

حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ بيانوي چې د دوارِو جهانونو د سردار صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمانِ عالي شان دے: چې کله بنده د نـمونځ د پاره ودريږي نو هغه د **اللّٰه** پاک پۀ بارګاه کښې حاضر وي، چې کله هغه اخوا ديخوا ګوري نو **اللّٰه** پاک ارشاد فرمائي: تۀ د چا پۀ لور ګورې؟ آيا زما نه د بهتر پۀ لور ګورې؟ اے اِبنِ آدم (يعني اے انسانه!) زما پۀ لور متوجِّه شه! زۀ د هغه نه بهتر يم د چا پۀ لور چې تۀ ګورې. (مسند البزار ج۱۶ ص۲۰۰ حديث ۹۳۳۲)

## پۀ نـمونځ کښې د اخوا ديخوا کتلو پۀ وجه د رحمت اوړيدل

حضرت ابوذَر رضی اللہ عنہ بيانوي: رسولِ انور، محبوبِ رَبِّ اکبر صلی اللہ علیہ والہ وسلم ارشاد ووفرمائيلو: د **اللّٰه** پاک رحمت د نـمونځ کوونکي پۀ لور متوجِّه وي تر څو پورې چې هغه اخوا ديخوا اونه ګوري، چې کله اخوا ديخوا وګوري نو د **اللّٰه** پاک رحمت هم د هغه نه واوړي.
(ابو داؤد ج۱ ص ۳۴۴ حديث ۹۰۹)

## پۀ نـمونځ کښې لږم 40 ټکونه وچيچله

حضرت عبدُ الله بن مبارَک رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: پۀ وړوکوالي کښې ما ليدلي يوه عبادت ګزاره زنانه ما ته ډيره ښه ياده ده. د نـمونځ پۀ حالت کښې لړم هغه څلويښت ټکونه وچيچله خو د هغې پۀ حالت کښې لږ شان فرق هم رانغلو. چې کله هغه د نـمونځ نه فارغه شوه نو ما ووئيل: مورې! دا لړم تاسو ولې نه لرې کوو؟ جواب يـې راکړو: ځويه! اوس لا تۀ ماشوم يـې، دا څنګه مناسب وه! زۀ خو د خپل **رَبّ تعالیٰ** پۀ کار کښې مشغوله ووم نو خپل کار مې څنګه کړے وو؟ (کشف المحجوب ص ۳۳۲)

سُبْحٰنَ الله! څومره ځانګړے سوچ دے...؟ بنده چې کله د **رَبّ تعالیٰ** پۀ حُضُور کښې حاضر شي، د هغه پۀ عبادت کښې مصروف شي نو بيا د هغۀ سره دا چرته ښائي چې هغه اخوا ديخوا اوګوري، د سترګو پۀ ګوټ کښې يو خوا بَل خوا اوګوري، هغۀ له خو پـکار

دي چې پۀ اَدب سره پۀ توجُّه سره بس د رَبِّ رحمان پۀ رحمت نظر ساتي، د هغه پۀ حضور کښې حاضر اوسي.

**وضاحت:** ياد ساتئ چې هُغې بزرګې زنانه رحمۃُاللہِعلیہا لړم لړې نه کړو، دا د هغې تقویٰ او کردار دے، زمونږ پۀ شان کمزورې ايمان والا که پۀ نـمونځ کښې لړم (يا بل تکليف ورکوونکے څيز) لړې کړي نو دا جائز دي. البته! د دې مسئلې خپل تفصيلات دي کوم چې به تاسو ته د اميرِ اهلِسُنّت پۀ رساله **نمازکاطريقه** کښې ميلاؤ شي. هلته يې ولولئ!

## د حضرت حاتِم اَصَم د نـمونځ انداز

د حضرت حاتِم اَصَم رحمۃُاللہِعلیہ نه چې د هغوئي د نـمونځ پۀ باره کښې پوښتنه وکړے شوه نو هغوئي ووفرمائيل: چې کله د نـمونځ وخت شي نو زۀ پوره اودس وکړم، بيا د نـمونځ ځائے ته راشم او کښينم تر دې چې زما اندامونه (يعنې د بدن ټولې حصې) پۀ سکون شي، بيا د نـمونځ د پاره ودريږم او کعبۀ معظمه د خپلو ورُوځو د وړاندې، پل صراط د ښپو لاندې، جنّت ښي اړخ ته او دوزخ ګڅ اړخ ته او ملک المَوت علیہِالسّلام پۀ ځان پسې شاته خيال کووم او دا نـمونځ خپل آخري نـمونځ ګڼم. بيا د اميد او ويرې دواړو کيفيتونو سره حقيقتاً تکبيرِ تحريمه وايم، قرآنِ کريم پۀ قلاره قلاره لولم. رُکوع پۀ عاجزۍ سره او سجده پۀ خشوع سره کووم. ګڅه ښپه [د ځان نه لاندې] خوَره کړم او پۀ هغې کښينم او ښۍ ښپه ودروم. ښۀ د اِخلاص نه د کار اخستو باوجود هم دا ويره لرم چې معلومه نۀ ده چې زما نـمونځ به قبليږي او که نۀ! (احياء العلوم ج۱ ص۲۰۶)

سُبۡحٰنَ الله! څومره عظيم نـمونځ دے...!! کاش چې مونږ ته هم داسې توفيق رانصيب شي او مونږ هم د داسې ښکلو ښکلو تصوراتو سره نـمونځ وکړو. **الله** پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## (3): پهٔ اِخلاص سره نـمونځ کوئ!

د نـمونځ د قبليدو د پاره د ټولو نه بنيادي شرط اِخلاص دے. لهٰذا د هر قِسمه نـمونځ که هغه فرض وي او که نفل، صرف او صرف د **الله** پاک د راضي کولو د پاره ادا کول پکار دي، نورو ته ښودلو د پاره د ريا نـمونځ کول نهٔ دي پکار.

## د ربُّ العٰلمين توهين كوونكے

د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې د خلقو پهٔ **مخکښې** پهٔ ښه طريقه او پهٔ تنهايۍ [يعنې يواځې ځائے] کښې پهٔ بده طريقه نـمونځ ادا کړو، بے شکه هغهٔ د خپل **رَبّ تعالٰی** توهين [يعنې بے ادبي] وکړه. (مسند ابو يعلیٰ ج ۴ ص ۲۸۰ حديث ۵۰۹۵)

**نوټ:** دلته د توهين نه مُراد پهٔ بارګاهِ اِلٰهی کښې د اَدَب کمے دے، کفريه توهين مُراد نه دے.

## د 30 كالو نـمونځونه يـې بيا راوګرځول

يو بزرګ رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د ديرشو کالو پورې پهٔ جومات کښې پهٔ وړومبي صف کښې (د جَمعې سره) نـمونځ ادا کړو، يو ځل هغوئي ته پهٔ وړومبي صف کښې ځائے ميلاؤ نه شو او پهٔ دويم صف کښې ودريدو نو شرم يـې **محسوس** کړو چې خلق به څهٔ وائي چې وګوره! نن د دې سړي نه وړومبے صف لاړو. د دې خيال راتلو سره هغهٔ د خپلې اصلاح سوچ اوکړو او خپل نفس ته يـې ووئيل: اے نفسه! ما چې تر ديرشو کالو پورې کوم نـمونځونه پهٔ وړومبي صف کښې ادا کول آيا هغه مې خلقو ته د ښودنې د پاره ادا کول چې نن تا له شرم درځي! بيا هغوئي د تيرو ديرشو کالو نـمونځونه بيرته راوګرځول (يعنې بيا يـې ادا کړل) او د کمالِ صدق او اِخلاص ډير عجيبه مثال يـې قائم کړو.
(اِحياءُ العلوم ج ۲ ص ۳۰۲)

اَللّٰہُ اَکْبَر! زمونږ د بزرګانو د اِخلاص جذبه صد کروړ مرحبا! صرف د زړهٔ د يو خيال له وجې يـې د ديرشو کالو نـمونځونه بيا ادا کړل. خو آه! زمونږ د غافلو حالت دا

دے چې اوّل خو مو زړهٔ د عبادت د شوق نه خالي وي او که پهٔ څهٔ طريقه عبادت وکړو نو هُم د اِخلاص پکښې کمے وي بلکې د واه واه د بد آفت له وجې د عبادت ثواب پهٔ خطره کښې واچوو.

نفسِ بدکار نے دل پر یہ قِیامت توڑی
عملِ نیک کیا بھی تو چھپانے نہ دیا

**الله** کريم دې مونږ ته توفيق راعطا کړي چې د ريا نه پاک صرف او صرف د **الله** پاک د رضا موندلو پهٔ نيت سره پينځهٔ واړه نمونځونه ادا کوو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! **رَبّ تعالیٰ** به راضي شي او ډير برکتونه به رانصيب شي.

## (4): نمونځ پهٔ خشوع و خضوع سره ادا کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د نمونځ پهٔ آدابو کښې دي چې نمونځ د خشوع و خضوع سره ادا کړے شي. **الله** کريم پهٔ اتلسمه سيپاره سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْن آيت يو او دويم کښې ارشاد فرمائي:

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿۱﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ۙ﴿۲﴾ (پاره:18، المؤمنون:21)

[مفهوم]ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بيشکه ايمان والا کامياب شول، هٔغه خلق چې په خپل نمونځ کښې خشوع و خضوع کوونکي دي.

پهٔ تفسير صراط الجنان جلد شپږم، صفحه 494 کښې دي: پهٔ دې آيت کښې ايمان والؤ له زيرے ورکړے شوے دے چې بے شکه هغوئي د **الله** پاک پهٔ فضل سره پهٔ خپل مقصد کښې کامياب شول او د هميشه د پاره به جنّت ته داخليږي او هلته به د هر ناخوښه څيز نه نجات بياموږي. (تفسير کبير ج۸ ص۲۵۸، روح البيان ج۶ ص۶۶ ملتقطاً) نور پهٔ صفحه 496 کښې دي: ايمان والا د خشوع و خضوع سره نمونځ ادا کوي، هٔغه وخت د هغوئي پهٔ زړونو کښې د **الله** پاک ويره وي او د هغوئي اندامونه ساکن (يعنې ودريدلي او پهٔ سکون سره) وي.

## د خُشُوع تعریف

د خشوع معنیٰ ده: د زړهٔ فعل او د ظاهري اندامونو (یعني لاسونو او ښپو) عمل. (تفسیر کبیرج۸ص۲۵۹) د زړهٔ فعل یعني چې د **اللّٰه** پاک پهٔ عظمت یې نظر وي، د دُنیا نه یې توجُّه لرې شوې وي او پهٔ نمونځ کښې یې زړهٔ لګیدلے وي. او د ظاهري اندامونو عمل دا چې پهٔ سکون سره ولاړ وي، اخوا دیخوا نه ګوري، د خپل بدن او جامو سره لوبې نه کوي او څهٔ فضول کار نه کوي. (ماخوذ از تفسیر کبیر ج۸ ص۲۵۹، مدارک ص۷۵۱، صاوی ج۴ ص۱۳۵۶)

## پهٔ نمونځ کښې خشوع مُستَحَب ده

علامه بَدرُالدِّین عَینِي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: پهٔ نمونځ کښې خشوع مستحب ده. (عمدۃ القاری ج۴ ص۳۹۱ تحت الحدیث ۷۵۱) اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ لیکي: د نمونځ کمال، د نمونځ نُور، د نمونځ خوبي پهٔ فهم و تَدَبُّر او حضورِ قلب (یعني پهٔ خشوع) باندې ده. (فتاوٰی رضویه ج۶ ص۲۰۵) مطلب دا چې د اعلیٰ درجې نمونځ هٰغه دے کوم چې پهٔ خشوع سره ادا کړے شي.

## پهٔ خشوع سره نمونځ ادا کول د ګناهونو کفاره ده

اَمِیرُ المُؤمِنِین حضرت عثمان ابنِ عفان رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ بیانوي چې ما د **اللّٰه** پاک د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوریدلي دي چې پهٔ کوم مسلمان د فرض نمونځ وخت راشي او هغه پهٔ ښه طریقه اودس وکړي او د خشوع سره نمونځ وکړي او پهٔ صحیح طریقه رُکوع وکړي نو هٰغه نمونځ د هغه د مخکښینو ګناهونو کفاره شي تر څو پورې چې هغه څهٔ کبیره ګناه ونکړي او دا (یعني د ګناهونو د معافیٔ سلسله) همیشه وي (د څهٔ زمانې سره خاص نه ده). (مسلم ص۱۱۶ حدیث ۵۴۳)

## د رُکوع نه مُراد ټول نمونځ دے

علامه عبد الرؤف مُناوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې **حدیثِ پاک** لاندې لیکي: د رُکوع نه مُراد

د نــمونځ ټول اركان دي يعني هغه د نــمونځ ټول اركان پهٔ ښه طريقه او خشوع سره ادا کړي او د ټولو اركانو پهٔ ښه طريقه د ادا کولو مطلب دا وي چې هر رُکن پهٔ پوره طريقه (د سنّتو وغيره خيال ساتلو سره) ادا کړے شي. (نور فرمائي:) نــمونځ به د صغيره (يعني وړو) ګناهونو د پاره کفاره وي، د کبيره (يعني غټو) ګناهونو د پاره نهٔ، ځکه چې کبيره ګناهونه پهٔ نــمونځ سره نه معاف کيږي (د کبيره ګناهونو د معافۍ د پاره به توبه او د هغې تقاضې پوره کول وي). (التيسير ج٢ ص٣٥٨)

## د خُشوع والا نــمونځ غم لرې کوي

د مکــتبة الــمدينه د 103 صفحو کتاب راهِ علم پهٔ صفحه 87 کښې دي: نــمونځ پهٔ خشوع و خضوع سره ادا کول او پهٔ تحصيل علم (يعني د عِلمِ دِين پهٔ حاصلولو) کښې لګيا اوسيدل فِکر او غم لرې کوي. (راهِ علم)

## پهٔ رزق کښې د برکت مضبوطه ذريعه

هم د دې راهِ عِلم پهٔ صفحه 92 کښې دي: پهٔ رزق کښې د برکت مضبوط ترينه ذريعه دا ده چې انسان نــمونځ پهٔ خشوع و خضوع سره او د تَعديلِ اَركان (يعني د نــمونځ اركان پهٔ قلاره قلاره د ادا کولو) خيال ساتلو او د ټولو واجباتو او سُنتو او آدابو پوره خيال ساتلو سره ادا کړي. [1]

## وور ولګيدو خو پهٔ نــمونځ کښې مشغول پاتې شو!

تابعي بزرګ حضرت مُسلم بن يَسار رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه به دومره پهٔ توجُّه سره نــمونځ ادا کولو چې د خوا و شا به ورته هيڅ خبر نهٔ وو، يو ځل پهٔ نــمونځ کښې مشغول وو چې پهٔ خوا

---

1...راهِ علم، صفحه:92۔

کښې يـې وور ولګيدو خو هغوئي ته احساس هم اونشو تر دې چې خلقو وور مړ کړو.
(اللہ والوں کی باتیں ج۲ص ۳۴۷)

## 4 مختصر حکايات

**(1):** اُمُّ الْمُؤمِنِین حضرت بي بي عائشه صِدِّيقه رضی اللہ عنہا فرمائي: سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به زمونږ سره او مونږ به د هغوئي سره خبرې کولې خو چې کله به د نـمونځ وخت شو نو (زمونږ حالت به داسې شو) لکه چې هغوئي مونږ نه پيژني او مونږه هغوئي نه پيژنو (احياء العلوم ج۱ص۲۰۵) **(2):** اميرُ الْمُؤمِنِين حضرت صِدِّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ به پۀ نـمونځ کښې داسې وو لکه (ټک وهلے شوے) ميخ. **(3):** بعضې صحابۀ کرام علیهم الرّضوان به پۀ رُکوع کښې داسې پۀ سکون سره [يعنې بے حرکته] وو چې پۀ هغوئي باندې به مرغۍ کښيناستې لکه چې هغوئي جمادات (يعنې بے ساه څيزونه) دي. (احياء العلوم ج۱ص۲۲۸،۲۲۹)
**(4):** بعضې صحابۀ کرام علیهم الرّضوان فرمائي: د قيامت پۀ ورځ به خلق د نـمونځ پۀ کيفيت باندې راپاڅولے کيږي يعنې پۀ نـمونځ کښې چې چا ته څومره اطمينان او سکون حاصل وي د هغې مطابق به د هغوئي حشر (يعنې راپاڅيدل) کيږي. (ايضاً ج۱ص۲۲۲)
**الله** پاک دې مونږ ته پۀ خشوع و خضوع سره د نـمونځ ادا کولو توفيق راعطا کړي.
مونږ پۀ خشوع و خضوع سره نـمونځ څنګه کولے شو...؟ د دې د پاره به مونږ ته څۀ کول وي؟ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتهم العاليه پۀ خپل کتاب **فيضانِ نماز** کښې د دې طريقې هم ليکلې دي، راځئ چې واورو:

## د آقا ﷺ خلور دعاګانې

**خورو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د خُشُوع ځائے زړه دے او د دې د ظاهريدلو مقام اندامونه دي. د خُشُوع حاصليدل د **اللهُ رَبُّ الْعِزَّت** نهايت عظيم نعمت دے، اول خو

شيطان بنده د **نمانځه** نه منع کوي، که بيا هُم بنده **نمونځ** کول شروع کړي نو هغه ته مُختلِف دُنيوي څيزونه وريادوي او په دې د **نمانځه** د رُوح يعني **خُشُوع و خُضُوع** ختمولو کوشش کوي. بُزُرګانِ دِين رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِم به **خُشُوع و خُضُوع** سره نمونځونه ادا کول، مونږ ته هُم د **خُشُوع و خُضُوع** حاصلولو د پاره ډير ډير کوشش کول پکار دي او د دې د حاصلولو د پاره په ژړا ژړا دُعـا ګانې کول پکـار دي. زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به داسې دُعـا کوله:

﴿۱﴾ اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُبِكَ مِنۡ قَلۡبٍ لَّا یَخۡشَعُ

يا **الله**! زه د هغه زړه نه ستا پناه غواړم کوم چې **خُشُوع** اختيار نه کړي.

﴿۲﴾ رَبِّ اجۡعَلۡنِی لَكَ شَكَّارًا، لَكَ ذَكَّارًا، لَكَ رَهَّابًا، لَكَ مِطۡوَاعًا، لَكَ مُخۡبِتًا، اِلَيۡكَ اَوَّاهًا مُّنِيۡبًا

اے زما **ربّـه**! ما ستا ډير شُکر ګُزار، ستا کثرت سره ذِکر کوونکے، ستا نه ډير زيات ويريدلو والا، ستا نهايت فرمانبردار، ستا د پاره **خُشُوع** اختياروونکے، ستا په بارګاه کښې ډير ژړا فرياد کوونکے او رُجُوع راوړونکے جوړ کړې.

﴿۳﴾ اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُبِكَ مِنۡ عِلۡمٍ لَّا یَنۡفَعُ، وَمِنۡ قَلۡبٍ لَّا یَخۡشَعُ، وَمِنۡ نَفۡسٍ لَّا تَشۡبَعُ، وَمِنۡ دَعۡوَةٍ لَّا یُسۡتَجَابُ لَهَا

يا **الله**! زه ستا پناه اخلم د هغه عِلم نه، کوم چې نفع نه ورکوي د هغه زړه نه کوم چې **خُشُوع** نه اختياروي، د هغه نفس نه چې نه مړيږي، د هغې دُعـا نه چې قبوله نه شي.

﴿٤﴾ اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُبِكَ مِنۡ صَلَاةٍ لَّا تَنۡفَعُ

يا **الله**! زه ستا پناه اخلم د هغه نمانځه نه کوم چې نفع رانکړي.

## ګناهونه د خُشُوع په لاره کښې ډير غټ رُکاوټ دي

که تاسو خُشُوع و خُضُوع سره نمونځونه کول غواړئ نو د ټولو نه مخکښې د ګناهونو نه پرهيز اوکړئ، ګناهونه د خُشُوع په لاره کښې ډير غټ رُکاوټ دي، په ګناه باندې قائم اوسيدلو سره خُشُوع نه شي حاصليدلے.

## زړونه نرموونکي کارونه

که په زړه کښې نرمي او خُشُوع راوستل غواړئ نو کثرت سره [يعني ډيرې] نيکئ کوئ او يوه عظيمُ الشّانه نيکي تِلاوَتِ قرآن هُم ده. د تِلاوَت په سبب زړه نرميږي او خلقو سره ښيګړه کول هُم د زړه د نرمئ باعِث دي. يو کس په بارګاهِ رِسالت کښې د زړه د سختئ شکايت اوکړو نو خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: ”که ته غواړې چې ستا زړه نرم شي نو مِسکينانو باندې طعام خوره او د يتيم په سر باندې لاس راښکاږه.“ (شُعَبُ الْاِيْمان ج ۷ ص ۴۷۲، حديث ۱۱۰۳۴)

## د زړه سختي څنګه لرې شي؟

اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته يوې زنانه د قَساوَتِ قَلبِي (يعني د زړه د سختئ) شِکايت اوکړو نو هغې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورته اِرشاد اُوفرمائيلو: ”**مرګ په کثرت سره يادوه ستا زړه به نرم شي.**“ چې کله هغې ښځې داسې اوکړل نو د هغې زړه نرم شو. بيا هغې د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا شُکريه ادا کړله. (اَلروضُ الفائق ص ۲۳)

## د الله پۀ نزد به د نـمر نه زيات روښانه مخ د چا وي؟

په يو حديثِ قُدسي کښې **الله** پاک اِرشاد فرمائي: زه د هر نمونځ کوونکي **نمونځ** نۀ قبلووم بلکه زه د هغۀ **نمونځ** قبلووم ✿خوک چې زما د عَظَمت په وجه تواضُع (يعني عاجِزي) اختيار کړي، ✿زما د حرام کړو څيزونو نه خپل خواهشات منع ساتي، ✿زما په نافرمانئ باندې اِصرار (هميشوالے) نه کوي، ✿په اُوږي [کس] باندې طعام

خوري، بے لِباسه ته جامې ور واغوندي، پۀ مُصيبت کښې ګير کس باندې رَحم اوکړي، مُسافِر له ځائے ورکړي او دا هر څه زما د پاره اوکړي. زما دې په خپل عِزَّت و جَلال قَسَم وی! **د هغه د مخ نُور به زما په نزد د نمر د نُور (يعني رڼا) نه زيات روښانه وي،** د دې نه علاوه به زه د هغه جَهالَت حِلم (يعني برداشت، نرمي [جوړ کړم]) او تِيارې بۀ يـې رڼا جوړې کړم، هغه به ما يادوي زه به هغه ته لَبَّيْك وايم، ما نه به غوارې زه به ئې ورته عطا کووم، زما قَسَم به کوي زه به د هغه قَسَم پوره کووم او هغه ته به خپل قُرب [يعني نزديکت] عطا کړم او هغه ته پناه ورکووم او د خپلو فرښتو په ذريعه به د هغه حفاظت کووم.[1]

| | |
|---|---|
| مولا سے اپنے ملتا ہے بندہ نماز میں | اٹھ جاتا ہے جدائی کا پردہ نماز میں |
| آپہنچا خاص اپنے شہنشاہ کے حضور | جب بندہ ہاتھ باندھ کے آیا نماز میں |
| گر قبر کے اندھیرے سے ڈر ہے تو پڑھ نماز | ہے ظلمتِ لحد کا اُجالا نماز میں |

## د توجُّه بدلوونکو معاملو نه مخکښې ځان فارغ کړئ

د **نمانځه** شروع کولو نه مخکښې د هغه ټولو څيزونو نه ځان فارِغه کړئ کوم چې د **نمانځه** نه د تَوجُّه لرې کولو او د يادِ اِلٰهی نه د غافِله کيدلو سبب جوړيدے شي، چې ځائے د سکون وي او د شور شغرب نه پاک وي، په مخامخ پرده يا جائے نماز باندې داسې ګل کارې او ګونجې وغيره نه وي [يعني جائے نماز سَم خور وي] ځکه چې د هغې په وجه تَوجُّه لرې کيږي او په خُشُوع و خُضُوع کښې خلل پريوځي. د سختې يخنۍ او سختې ګرمۍ نه د بچ کيدلو اَسباب هُم اختيار کړئ. که د طعام خوړلو يا بَولو وغيره کولو حاجت وي نو د هغې نه فارغه شئ.

1... كنز العمال، كتاب الصلاة، جز:7، جلد:، صفحه:214، حديث:20100۔

## د پوهې خبره

حضرتِ سَیِّدُنا ابو دَرداء رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به فرمائیل: "د سړي د پوهې [یعني عقلمندئ] نه ده چې هغه مخکښې خپل ضرروري کار ختم کړي چې د **نمانځه** شروع کولو وخت کښې د هغه زړه فارِغ وي." (قُوتُ الْقُلُوب ج۲ ص۱۶۹) تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَیِّدُنا مسرُوق رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه به د خپل کور کسانو ته فرمائیل: "(زما سره مُتَعَلِّق) خپل ټول حاجتونه زما د **نمانځه** شروع کولو نه مخکښې مخکښې ما ته بیان کړئ." (حِلْیَۃُ الْاَوْلِیَاء ج۲ ص۱۱۲ رقم ۱۶۱۱)

## پهٔ نـمونځ کښې چې څهٔ لولې چې د هغې معنې درته یادې وي

د خشوع حاصلولو د پاره چې بنده ته پهٔ نـمونځ کښې د لوستونکو سورتونو او د نـمونځ د ذِکرونو مثلاً ثناء، سورهٔ فاتحه، رُکوع او د سجدې د تسبیحاتو او د دُرُود شریف وغیره معنې معلومې وي د پاره د دې چې هغهٔ ته پته وي چې زهٔ خپل **رَبّ** ته څهٔ عرض کووم. د آیتونو او دُعاګانو معنې که چرې د بنده پهٔ ذِهن کښې موجودې وي نو خیالونه به یـې پهٔ قابو کښې وي او اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیْم! پوره طور به د خشوع و خضوع سره د نـمونځ ادا کولو سعادت ورنصیب کیږي.

## پهٔ نمانځه کښې د خُشُوع پیدا کولو 27 مَدَني ګلونه

**اللہ** پاک دې مونږ ته په خُشوع و خضوع سره د نمونځ کولو توفیق راکړي، امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د دې د ترغیب د پاره مدني ګلونه ارشاد فرمائي:

﴿۱﴾ که لوَږه یا تنده لرئ نو هغه ختمه کړئ ﴿۲﴾ د متیازو وغیره ﴿۳﴾ ضروري خبرو اترو او ﴿٤﴾ فون کولو یا اوریدلو نه ځان فارغه کړئ ﴿۵﴾ موبائل فون سائلِنټ کړئ ﴿٦﴾ماشومانو نه لرې اوسئ ﴿۷﴾ د شور شغرب د آوازونو نه د بچ کیدلو تدبیر اوکړئ ﴿۸﴾خوک مو چې انتظار کوي هغه فارغ کړئ ﴿۹﴾ که مخامخ دیوال باندې نقش و نِګار

وي يا مخامخ شيشه وغيره وي او تَوجُّه مو خرابيږي نو ځائے بدل کړئ ﴿۱۰﴾ که ګرمي مو په خُشُوع کښې رکاوټ جوړيږي نو د پکے يا که کيدے شي نو د A.C ترکيب اوکړئ ﴿۱۱﴾ که يخني مو کيږي نو په نمانځه کښې ګرم لِباس او هِيټر وغيره اِستعمالوئ ﴿۱۲﴾لِباس، عِمامه، څادر وغيره کښې مو يو څيز هُم په تَوجُّه کښې رُکاوټ جوړ نه شي، د دې خيال ساتئ، مَثَلًا چې لباس مو تنګ نه وي، د هغې [يعني لباس] چيچل چې نه درته نه محسوسيږي، وغيره ﴿۱۳﴾ که ماشي مو ښپې چيچي نو جُرابې په ښپو کړئ ﴿۱٤﴾عِمامه ښويدل يا د هغې د پاسه څادر په سجده کښې ښويدل يا د دې په وجه ګرمي کيدل يا د تنګيدلو باعث کيدل وغيره په خُشُوع کښې رُکاوټونه وي ﴿۱۵﴾ که په جيب کښې د موجودو څيزونو بوج رُکاوټ جوړيږي نو هغه اوباسئ ﴿۱٦﴾ نقش و نِګار والا مُصلّٰی باندې نمونځ کولو نه ځان ساتئ ﴿۱۷﴾ که مُصلّٰی يا کارپيټ وغيره مو د خُشُوع د کمئ باعث جوړيږي نو لرې ئې کړئ يا ترينه يخپله لرې شئ ﴿۱۸﴾ که هر څيز مو په خُشُوع کښې خلل اچوي که کيدے شي نو هغه لرې کړئ ﴿۱۹﴾ که وسوسې مو په خُشُوع کښې رُکاوټ جوړيږي نو نمونځ شروع کولو نه مخکښې په داسې طريقه چې خلق پوهه نه شي کيڼې اُوګې طرف ته درې ځله تُف تُف اوکړئ، بيا لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيم اولولئ، په قِيام کښې د سَجدې ځائے ته، په رُکوع کښې خپلو ښپو ته، په سَجْدَه کښې پوزې ته او قَعده کښې خپلې غيږې ته ګورئ اِنْ شَآءَاللّٰه د وسوسو نه به بچ شئ ﴿۲۰﴾ کوم نمونځ چې ادا کوئ هغه د خپل ژوند آخري نمونځ ګڼئ ﴿۲۱﴾ دا سوچ کوئ چې الله پاک ما وِيني ﴿۲۲﴾ مختلفو نمونځونو کښې د سُوْرَةُ الْفَاتِحَه نه پس لوستونکي سورتونه بدل بدل لوَلئ ﴿۲۳﴾ د نمانځه په دوران کښې په تِلاوَت کښې د تَجوِيد ضروري قواعِدو باندې عمل کوئ ﴿۲٤﴾ د آيتونو او اَذکارو يو يو حَرف صحيح ادا کوئ او ﴿۲۵﴾ په نمانځه کښې چې

څه لَولَئ د هغې په معنٰی نظر ساتئ ﴿۲۶﴾ د **نمانځه** فرائض، واجِبات، سُنَن و مُسْتَحَبّات په ښه طريقه ادا کوئ ﴿۲۷﴾زر زر نه بلکه اطمينان سره **نمونځ** کوئ.

خشوع اے خدا! تو نمازوں میں دیدے — اجابت کرم سے دعاؤں میں دیدے

**الله** پاک دې مونږ ته د پينځه واړو نـمونځونو پۀ پابندی سره د جَمعې سره پۀ جومات کښې د ظاهري او باطني آدابو د خيال ساتلو سره د ادا کولو توفيق رانصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صلَّى الله عليه واٰله وسلَّم.

## د امير اهلسنّت د څلورو کتابونو تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! څنګه چې نمونځ پۀ هر عاقل بالغ مسلمان نارينه او زنانه باندې فرض دے، هُم داسې د دې ضروری احکام زده کول هُم ضروری دي. پۀ موجوده دور کښې د اميرِاهلسنت مولانا محمد الياس عطار قادری دامت برکاتهم العاليه ذات د څۀ نعمت نه کم نه دے، اميرِاهلسنت دامت برکاتهم العاليه د هرې سطحې د خلقو د خيال ساتلو سره پۀ آسان انداز کښې د نمانځه د فضائلو او احکامو متعلق 4 کتابونه ليکلي دي:

(1): فيضانِ نماز: دا کتاب تقريباً پۀ 600 صفحاتو مشتمل دے. د نمونځ سره مينه پيدا کولو او د دې د آدابو د معرفت حاصلولو د پاره د دې کتاب مطالعه نهايت فائده منده ده. پۀ دې کتاب کښې د جومات فضائل، د نمونځ ثوابونه، د پينځه وخته نمونځ فضائل، جَمعې سره د نمونځ کولو فضائل، د سجدے فضائل، خُشوع او خضوع سره د نمونځ کولو فضائل، د نمونځ نۀ کولو عذابونه، او د نمانځه د عاشقانو 86 حکايات بيان کړے شوي دي، ضمناً نور ډير مسائل، د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم او اوليائے کرامو رحمة الله عليهم حالات هُم پکښې بيان کړے شوي دي.

(2):نمازکا طريقه: تقريبا د 120 صفحاتو رساله د هر عمر والا د پاره فائده منده ده، پۀ دې

کښې د حنفی نمونځ مکمله طريقه بيان کړے شوې ده، د دې سره سره د نمونځ فرائض او واجبات ، سنّتونه او آداب، مکروهات او مستحبات هُم پهٔکښې بيان کړے شوي دي، د دې رسالې د مطالعه کولو سره د نمونځ د احکامو بنهٔ ډير معلومات حاصليدے شي.

**(3):د نمانځه احکام:** پهٔ دې کتاب کښې تقريبا 12 رسالې شاملې دي، چې پهٔکښې د اودس، نمونځ، غسل، تيمم، د قضاء نمونځونو طريقه، د جُمعې د نمانځه، د اخترو د نمونځونو، او د جنازې د نمانځه احکام لږ پهٔ تفصيل سره بيان کړے شوي دي.

**(4): د اسلامی خوئيندو نمونځ:** پهٔ دې کتاب کښې د اسلامي خوئيندو د نمانځه پوره طريقه بيان کړے شوې ده، د دې سره سره، د زنانؤ د پاکئ او ناپاکئ، د اودس او غسل وغيره احکام هُم بيان کړے شوي دي.

دا څلور واړه کتابونه د هر کس او د هر کور ضرورت دي، هُم نن دا کتابونه د مکتبة المدينه نه پهٔ هديه سره اوغواړئ يا يې د دعوتِ اسلامی د ويب سائټ **www.dawat e Islami.net** نه ډاونلوډ کړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د فيضانِ نماز کورس ترغيب

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوت اسلامي د علمِ دين نُور تقسيموونکے ديني تحريک دے او د دې تحريک دا عزم دے چې هر مسلمان کم از کم فرض علوم خو زده کړي د دې مقصد د پاره دعوتِ اسلامی د ډيرو شارټ [يعني د مختصر وخت د] کورسونه اهتمام کوي، چې په هغو کښې يو کورس "فيضانِ نماز کورس" هُم دے، پهٔ دې کښې د نمونځ فرائض واجبات، سنتونه او مستحبات، د نمونځ عملي طريقه، د نمونځ ماتولو والا کارونو تفصيل او د دې نه

علاوه ډير څه زده کيږي، دا کورس فزيڪلي [يعني يو مرکز کښې د داخله اخستو په ذريعه] او آن لائن په دواړو طريقو کيږي، فزيڪلي په دې کورس کښې د شرکت د پاره دارُ السُّنّه سره رابطه وکړئ، او آن لائن پۀ دې کورس کښې د شرکت د پاره د فيضان آن لائن اکيډمي د ويب سائټ www.Quranteacher.net وزټ وکړئ.

## پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: د سحر د نمونځ د پاره راپاڅول

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د نيک جوړيدو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او پۀ نيکو باندې د استقامت موندلو د پاره د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ او د ذيلي حلقې پۀ 12 ديني کارونو کښې هم پوره پوره برخه اخلئ! د دې پۀ برکت به اِنْ شَآءَ اللہُ الْكَرِيم! د دنيا او آخرت بے شميره خيرونه درنصيب شي. د ذيلي حلقې پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **د سحر نمونځ د پاره راپاڅول** هم دے. **د سحر نمونځ د پاره راپاڅول**، د آخري نبي، نبئ اُميّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دې. ❁ د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به د سحر د نمونځ د پاره تللو نو اوده [ګسان] به يې راپاڅول [(1)] ❁ د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِىَ اللهُ عَنْهُ هم دغه انداز وو [(2)] او ❁ د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علىُّ الْمُرتَضٰى رَضِىَ اللهُ عَنْهُ به هم پۀ دې ښکلي سُنَّت باندې عمل کولو. [(3)]

تاسو هم دا سُنَّت اختيار کړئ! د سحر د نمونځ د پاره خلق راپاڅوئ! اِنْ شَآءَ اللہُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به درنصيب شي ❁ چې نور راپاڅوئ نو تاسو ته به هم د سحر د نمونځ د جَمعې سره د کولو سعادت نصيب کيږي ❁سحر سحر به د نيکۍ د دعوت عام کولو

---

[1]...ابوداؤد، صفحہ:208، حدیث:1264۔
[2]...مشکاۃ المصابیح، جلد:1، صفحہ:244، حدیث:1240 ماخوذاً۔
[3]...تاریخ الخلفاء، صفحہ:112 ماخوذاً۔

ثواب حاصلوئ ❁ستاسو پهٔ راپاڅولو چې څومره خلق نـمونځ کوي، د هغوئي د ټولو د نـمونځونو ثواب به هغوئي ته هم حاصليږي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ستاسو پهٔ اعمال نامه کښې به هم ليکلے کيږي. ❁ سحر وختي به د پيدل ګرځيدو موقع پهٔ لاس درځي نو صحت به مو هُم ښهٔ کيږي ❁ يوه اهمه فائده به دا هم کيږي چې جومات ته به ډير خلق راځي، د يو اِسلامي ورور بيان دے چې مونږ پهٔ يخنۍ کښې د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول شروع کړل نو نـمونځ کوونکي دومره زيات شو چې د جومات پهٔ دالان کښې مو ورته [د يخنئ نه بچ کولو د پاره] تمبوان [شاميانې] ولګولې. سُبْحٰنَ اللّٰه!

هيڅ ګرانه نهٔ ده، د جَمعې د وخت نه **25 ،20** منټه مخکښې راپاڅئ! د سحر نـمونځ له خو هسې هُم تلل دي، [نـمونځ له د راپاڅولو د پاره] آواز کوئ او ځئ! جومات ته به هم ورسئ او د **اللّٰه** پاک پهٔ فضل سره به د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم حاصل کړئ. نيت وکړئ! چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د سحر د نـمونځ د پاره به خلق راپاڅووم.

## د مدينے د سفر سعادت نصيب شو!

د پنجاب د علاقې اِلٰه آباد (ضلع قصور) د اوسيدونکي يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما د دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره تعلق خو لرلو خو د ديني کارونو پهٔ لړ کښې پهٔ سستۍ کښې ګير ووم، يوه ورځ يو ذمه دار اسلامي ورور زهٔ پوهه کړم او د ديني کار کولو او خاص طور د **سحر د نـمونځ د پاره د مسلمانانو د راپاڅولو** د ديني کار پهٔ پوره پابندۍ سره د کولو ترغيب يـې راکړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زما ذهن جوړ شو او ما هم د بَلې ورځ نه پهٔ دې باندې عمل شروع کړو. د سحر د نـمونځ د پاره مې د مسلمانانو پهٔ راپاڅولو لاس پورې کړو، د **اللّٰه** پاک او د هغهٔ د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کرم وشو، بخت مې څهٔ داسې رابيدار شو چې هم پهٔ هغه کال ما ته د مدينے د حاضرۍ سعادت

رانصیب شو، نور کرم دا هم اوشو چې زما مشر ورور ته هم د حج سعادت نصیب شو.

عطائے حبیبِ خُدا مدنی ماحول | ہے فیضانِ غوث و رضا مدنی ماحول
سنور جائے گی آخرت اِنْ شَآءَ الله! | تم اپنائے رکھو سدا مدنی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مَدَني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د قرآنِ کریم فیضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي I.T ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مَدَني قاعِده (Madani Qaida) دے. پهٔ دې ایپلي کیشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډیو (Audio) شامله کړے شوې ده یعني پهٔ دې ایپلي کیشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې پهٔ کوم حرف یا کوم لفظ باندې کلک (Click) کوئ، پهٔ آډیو (Audio) کښې به د هغې تَلَفُّظ چلیږي، داسې د دې ایپلي کیشن پهٔ مدد سره پهٔ اسانۍ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق (Practice) کول او صحیح مخارج او ضروري تجوید زده کیدے شي. دا ایپلي کیشن پهٔ خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بیان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د ځینو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّة چا چې زما د سُنّتو سره محبت وکړو هغهٔ زما

سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو هغه به پهٔ جنّت کښې زما سره وي.[1]

هر کام شریعت کے مطابق میں کروں کاش! | یاربّ! تو مبلغ مجھے سُنّت کا بنا دے[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قرآنِ پاک تلاوت کول سُنَّت عمل دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک: (1):** زما د اُمَّت افضل عبادت د قرآن تلاوت دے.[3] **(2):** څوک چې د شپې **200** آيتونه تلاوت کړي، د هغه نوم به پهٔ عبادت کوونکو کښې وليکلے شي او څوک چې **400** آيتونه تلاوت کړي، د هغه د پاره به يو قِنطَار اَجر ليکلے کيږي، يو قِنطَار د **120** قيراط برابر دے او يو قيراط د اُحُد د غر همره دے.[4]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د قرآنِ کريم تلاوت کول سُنَّت عمل دے. زمونږه خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د قرآنِ کريم ډير زيات تلاوت کولو ❁ حضرت عائشه صِدّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: يو څيز به هم خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تلاوت کولو نه نهٔ منع کولو ❁ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د شپې پهٔ نمونځ کښې کله د ټول سُورهٔ بقره او سُورهٔ آلِ عمران تلاوت کولو ❁ هره شپهٔ به يې د سُوْرَهٔ سجده، سُوْرَهٔ مُلک، سورهٔ بنی اسرائيل، سورهٔ زُمَر، سُوْرَهٔ کافرون، سُوْرَهٔ فَلَق او سُوْرَهٔ نَاس تلاوت کول او بيا به اوده کيدلو.

الله پاک دې مونږ ته هم د ډير ډير تلاوت کولو توفيق راعطا کړي.

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343.
2...وسائل بخشش، صفحہ:115.
3...شُعَبُ الْاِیْمَان، باب: تعظیم قرآن، جلد:2، صفحہ:347، حدیث:2004.
4...شُعَبُ الْاِیْمَان، جلد:2، صفحہ:401، حدیث:2197.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم .

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العاليه د 91 صفحو رساله 550 سنّتیں اور آداب واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښېِ د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| غم کے بادَل چَھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو |
| رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رَحمت کھلیں، قافلے میں چلو |

الله پاک دي مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم.

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښېِ لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانېِ

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعېِ [يعني د جُمعېِ د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْـحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښېِ د سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم دِيدار کوي او قَبَر کښېِ د داخليدو وخت کښېِ هُم، تر دې چې

سركارِ مدينه صلّی الله عليهٖ واٰلهٖ وسلّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رضی الله عنه نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلّی الله عليهٖ واٰلهٖ وسلّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴾4﴿ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

2... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰی لَہٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

3...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵